**AFGHAN GERMAN ONLINE** افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۲/۱۰/۰۱

# زموږ د وخت د مکتب استاذان

زمونږ د وخت د مکتب استاذان د دې له پاره چې خپله ټیټه معلوماتی سویه و پوښي ،نو په صنف کې به یې وهل او ټکول زیات کول ،او زمونږ ډیر وخت د درس به هم په همدې کې ضایع شو ، او دا به د دې لامل وګرځیده ،چې د شاګردانو زړونه د ښوونځي څخه تور شي ،ځینواستاذانو به صنف ته د راننوتو سره سم وهل او ټکول پیل کړل ، د تش سبق د نه زده کولو په بهانه، او یا په یوه بله بهانه ، په همدې رازمونږ به تل وهل خوړل ،چې دا به د زده کونکو روحی مورال او جرأت هم کموو ،او د بلې خوا به ډیری زده کونکي به د هغې مضمون څخه خوابدی شول چې استاذ به یې وهل او ټکول کول، ،څرنګه چې د دولتی ماموریتونو له وجهی ډیر خلک به له یو ولایت نه بل ولایت ته لاړل ،هلته به یې خپل ماشومان مکتب کې داخل کړل ،نو ځیني ولایتونو کې به ښه استاذان هم ول ، چې د هغوي معلوماتی کچه به هم اوچته وه ، او ډیر مهربانه به هم ول ،او دا ځینو ولایتونو ته چې مونږ کده وړي زما تجربه ده ،او دوي به په تیره د یوی ښې کورنی هم ول ،هغوي چې وهل ټکول کول د هغوي څخه به مونږ هیڅ هم نه زده کول ، ځکه د دوی په خپله څه نه وو زده ،خو دا نا آګاهه او بی خبره استاذان به په دی نه پوهیدل چې دوی په خپل دی سلوک کړنو او رفتار سره ،ټولنې ته څومره تاوان رساوه،

په ځینو مکتبونو کې په ولایاتو او کابل کې چې زه پیښ شوم ،او ما لوست وکړ ،داسي استادان هم ول چې د استاذی دندی سره یې مینه درلوده ، او د هغوي معلوماتي سویه او کچه هم اوچته وه ، دا به ډیری داسی استاذان ول ،چې معیشتی سطحه د ژوند به یې څه نا څه ښه وو ،د دوی به آفاقی معلومات هم زیات ول ، نو د دوی څخه به مونږ ډیر څه زده کول او تر ډیر حده به مو تري ګټه واخیسته، ، او دا د دې ښکارندويي کوله، که استاذانو ته معیشتی ژوند او روزګارښه برابر شي نو بدون له شکه به دوی د معارف د اولاد په تربیه کې ډیر کوښښونه وکړي ،اوخپلې نیمګړتیاوې به هم پوره کړي ،لنډه یې دا چې زما په اند، که په راتلونکی کې هم داسي وشي ، چې ځیني استاذان چې معیشتی ژوند یې لږ ښه دی او تر یوې اندازې پوری خود کفیله دي ،او په ترڅ کې د معلمی د دندی سره خورا مینه لري ، او پلټونکي خلک کې ، چې یانی خپل ازدیاد د معلوماتو کې هم کوښښ کوی،چې د زده کونکو د پاره ګټور ګړیوځي، نو داسی استاذانو ته دې وخت او موقع ورکړل شي ،د ماشوم وهل ټکول په ښوونځي یا مدرسه کې د ماشوم په روحیاتو نیغ په نیغه اثر غورزوی ،او ماشوم ډیر کم جرأته مینځ ته راځي ، استاذ باید دې ته متوجه اوسي ، چې په راتلونکي کې ډیری ستونزی او مبارزې د زده کونکي په وړاندی دي ،چې د دې لوی واټن او اوږدي او سختو لارو ، د پاره د ماشوم جرأت او زړور تیا هم شرط دی، نو که زده کونکی په وهلو او ټکولو خپل اخلاقی جرأت د لاسه ورکړي ،نو په دې طور یو بی خبره استاد یا معلم ټولنې ته خیانت کوي ، ښه استاذ په خپلو ښه معلوماتو ورکولو سره ښه اصولِ تدریس سره او ښه اخلاقو سره د تل له پاره د زده کونکي په ذهن کې پاتي کیږي ،او د استاد کړه وړه ، سر مشق ګرځوي ، مونږ ته ښایی چې د زده کونکو د پاره د ادب او نزاکت پوهیدني مثال او نمونه وګرځو، تر څو نور زمونږ څخه د انسانیت او نزاکت پوهیدني درس واخلي ،مونږ باید د زده کونکو په وړاندی هغه قوانین چې انسانیت پرې ډډه لګوي مراعات کړو ،زمونږ کړه وړه باید زده کونکو ته نمونه او مثال وي ،او زمونږ د ظاهری وضع څخه هم ډیر څه درک کاندی ،نو د وړو بچیانو به تر ډیره په ذهن کې پاتي شي ،ځکه دوی د عمر ډیره اوږده مرحله په مخ کې لري ،او مونږ روان یو،نو په په ښه اخلاقو ښودلو سره به هغوي زمونږ نقشِ قدم ولاړ شي ،کوم ښه عادات او خواص چې مونږ یې لرو د دې څخه به هغوي پیروي وکړي ، او دا د اخلاقو درس به خپلو راتلونکو نسلونو ته پریږدي ،نو د قدرمنو استاذانو څخه می هیله دا ده چې په خپل تدریسی مضمون څخه به غیر د زده کونکي د ښه روزنې په خاطر لږ آفاقی معلومات ولری ، چې د زده کونکو د پاره ګټور تماميږي ، او زده کوونکو ته اخلاقی جرأت ورکول هم له پامه ونه غورځوي ،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ